مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

۲۰۲۶/۰۷/۱۸

ډاکټر لودویگ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
(یوسلاو څوارلسمه برخه)

**عبدالمجید زابلی**

د مېرمن طاهرې او محمد حکیم زوی په ۱۸۹۶ز کال کې په هرات کې زېږېدلی دئ؛ عبدالمجید له خپل پلار سره په ۱۹۱۳ز کال کې تاشکند ته په سوداګریز سفر لاړ. خپلې زده کړې ئې په هرات کې او له ۱۹۱۳ تر ۱۹۱۷ز کال پورې په تاشکند کې کړې دي. د خپل پلار د صادراتو او وارداتو کمپنی ئې په لاس کې واخیستله او له فارس او روسیې سره ئې سوداګري پیل کړه. په ۱۹۲۲ز کال کې ئې د خپل سوداګریز بنسټ دفتر له تخته بازار څخه تاشکند او مسکو ته ولېږداوهٔ. د «شوروي اتحاد د نوي اقتصادي پالیسی» تر سیوري لاندې ئې د نساجي یوه فابریکه په کار واچوله. په ۱۹۲۹ز کال کې ئې جرمني ته کډه وکړه او خپل فعالیتونه ئې په نړۍ والې پانګې اچونې باندې راټول کړل. نادر شاه ورته بلنه ورکړه چې افغانستان ته راسې په ۱۹۳۳ز کال کې ئې د «هاشمي سهامي شرکت» [1] بنسټ کښېښود، همدې بنسټ وروسته په ملي بانک تحول وموند، چې ۸۰ په سلو کې خصوصي ونډه او ۲۰ په سلو کې دولتي ونډه په کې وه. د کاغذي نوټونو په چاپولو سره ئې د افغانستان بانک څانګې په برلین، لندن، بمبئې، کراچي او وروسته په نیویورک کې د افغان – امریکا سوداګریز شرکت [2] څانګې پرانیستلې. په ۱۹۳۶ز کال کې د ملي اقتصاد وزیر سو. د زابلي د صنعتي تفکر فلسفه کولی سو په لنډ ډول داسې ووایو : په ټوله کې : پانګه اچونه باید یو آزاد تشبث وي؛ د پانګې جوړول، کرنه ،صنعت او صادرات / واردات باید د همزیستي په تعادل کې شکل ومومي؛ لومړیتوب باید د مشتریانو د اساسي استهلاکي توکو تولید او خدماتو او د ژوند ژواک د معیار او سطحې ودې ورکولو ته ورکړل سي او په ځان کې کرنیز-صنعتي کارګران راونغاړي چې ورته د مناسبې تنخوا نظام «روغتیايي آسانتیاوې، کور او د ښوونې او روزنې ملاتړ» برابر سي. زابلي په ۱۹۵۱ز کال کې استعفی وکړه او له هېواده دباندې ووت. په ۱۹۶۳ز کال کې بېرته افغانستان ته راستون سو. د ۱۹۶۴ز کال د اساسي قانون د تسوید د کمیسیون غړی. د ۱۹۶۴ز کال د لویې جرګې غړی. دغه مداولنه

---

1 - Ashami Co : په کتاب کې ئې په همدې ډول د آشمي شرکت لیکلي دي چې تایپي تېروتنه ده. دا د «هاشمي سهامي شرکت» نومېدهٔ. - ژ

2 -Afghan- American Trading Co



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

ئـي اخيستي دي : اول ستوری ۱۹۲۸ [3]، سردار اعلی ۱۹۴۲. له اروپايي هېـوادونو او د دريمي نړۍ د هېـوادونو د دولتونو جوايز او نښانونه. متقاعد او له ۱۹۷۰ز کال راهيسي د امريکا په متحده ايالاتو کې ژوند کوي.

## ډاکټر الف شاه ځدران

په ګرديز کې زېږېدلی دئ. تحصيلات ئـي د کابل په دارالمعلمينو او د کابل پوهنتون د ښوونې او روزنې په پوهنځي کې کړي او په ۱۹۶۶ز کال کې د ليسانس په درجې فارغ سوی دئ. خپله ماستري او دکتورا ئـي د امريکا په متحده ايالاتو کې ترلاسه کړي ده. د کابل پوهنتون د ټولنيزو علومو د پوهنځي استاد.

## شفيع ظفر

د چنداول د سيمي يو پرچمی دئ. په ۱۹۸۰ز کال کې د کرنې او د ځمکو د اصلاحاتو د وزارت د کرنيزو څېـړنو د رياست رئـيس. د ځمکو د اصلاحاتو سرپرست وزير. ړ غوايي له پاڅون وروسته‚ د ځمکو د اصلاحاتو سرپرست.

## عبدالودود ظفري

په ۱۹۸۰ز کال کې د کرنې په وزارت کې د کرنيزو کوپراتيفونو د پرمختيا رئـيس.

## انور ظفري

ړ غوايي له پاڅون وروسته‚ د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند د مطبوعاتو رئـيس.

## عزيزالله ظفري

د ميرزا غريب الله زوی په ۱۹۴۲ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۹ز کال کې د حبيبيې له ليسې څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۶۱ز کال کې د آريانا افغان هوايي شرکت د سوداګرۍ د څانګې کارمند. په ۱۹۶۲ز کال کې ‚فليت کنترول‚ [4]؛ په ۱۹۶۵ز کال کې د پلورلو مدير[5]؛ په ۱۹۶۷ز کال کې په تهران کې د ترافيک او د پلورلو مدير. په ۱۹۷۱ز کال کې په استانبول کې فليت کنترول. له ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۴ز کال پورې په لندن کې فليت کنترول او ريزرويشن ۸۱ – ۱۲۹۷۵؛ له ۱۹۸۱ تر ۱۹۸۲ز کال پورې په پاريس کې ترافيک او فليت کنترول. اوس د امريکا په متحده ايالاتو کې ژوند کوي.

---

[3] -Starr Order Awal

[4] - Fleet Control : د هوايي شرکت په منجمنت کې فليت کنترول د هوايي شرکت له اداري چارو نيولی بيا د الوتکو د عملياتو تر لړۍ پورې د يوې پراخې او هر اړخيزې لړۍ د سرپرستۍ چارو ته ويل کېـږي. او موخه ئـې د هوايي شرکت، د هوايي شرکت د کارمندانو او مشتريانو خونديتوب، اغيزمنتوب او له مالي اړخه په اغېـزمن ډول د الوتکو د چلولو لړۍ ته وايي. - ژ

[5] -Sales Manager



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**ډاکټر باطن شاه ظفر زوی** [6]

ړد غوايي له پاڅون وروسته د بې سوادۍ پر وړاندې د مبارزې د ادارې رئـیس.

**میرزا مـحـمـد ذهین یار**

ړد غوايي له پاڅون وروسته د ننگرهار د مجلې محرر.

**عزیزالله ظاهر**

د ۱۹۳۰ز کال په شاو خوا کې زېـږېـدلی دئ. د ۱۹۵۰ز لسیزې په ترڅ کې د غازي له لیسې څخه فارغ سوی دئ. د لندن له پوهنتون څخه ئـې د راډیو په انجنیرۍ کې ډیپلوم تر لاسه کړ. د ۱۹۵۶ز کال په شاو خوا وو کې د معارف په وزارت کې شامل سوی دئ. د مخابراتو د وزارت د آخذې د سټیشن مدیر. په ۱۹۶۵ز کال کې د تخنیکي څانگې عمومي مدیر. د مخابراتو د وزارت د تیلي کمیونیکیشن د ریاست رئـیس. له پاکستان سره ئـې د تیلي کمیونیکیشنونو او ډاگ په اړوند خبرې اترې وکړې. په ۱۹۶۸ز کال کې د مخابراتو د وزارت مرستیال وزیر. اوس له خپلې کورنۍ سره په کابل کې ژوند کوي.

**پاینده محمد زهیر**

د مولوي احمد جان کندهاري زوی په ۱۹۱۰ز کال کې په کابل کې زېـږېـدلی دئ. د حـبـیـبـیـې او حکامو په ښوونځیو او په دارالمعلمینو کې ئـې زده کړې کړې دي. په ۱۹۲۸ز کال کې د تنور سازۍ په ښوونځي کې ښوونکی. په ۱۹۲۹ز کال کې د استقلال په لیسې کې د پښتو ښوونکی. په ۱۹۴۱ز کال کې د استقلال د لیسې مرستیال مدیر. په ۱۹۴۳ز کال د معارف د وزارت د ښوونې او روزنې د ریاست غړی. په ۱۹۴۹ز کال کې د معارف د وزارت د تألیف او ترجمې مدیر. په ۱۹۵۶ز کال کې د وزبیکستان په پوهنتون کې د پښتو ژبې استاد. د افغانستان د تأریخ مؤلف چې په کابل کې په دري او پښتو ژبو چاپ سوی دئ. د معارف مډال ئـې تر لاسه کړی دی. په ۱۹۵۷ز کال کې په کابل کې وفات سو. لیکوال او شاعر.

## نور بیا

# مـحـمـد ظاهر شاه

له ۱۹۳۳ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د...

قدرمنو لوستونکو! د ښاعلي رحمت آریا د آرشیف: لینک

[6] - ZAFARZOI DR. BATIN SHAH : ددې نوم مخ ته ئـې په عربي الفباً په تـېـروتنې «بتین شاه» لیکلي دي. - ژ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ